# دَجّال

## چړته دے؟
## او کله به راووځي؟

**19-JUNE-2025**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(FOR ISLAMIC BROTHERS)

پهٔ 19 جون، کال 2025ء (بمطابق: 22 ذُو الحج، کال 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# دجّال چرته دے؟ او کله به راووځي؟

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د دجّال نه ویرول د انبیائے کرامو علَیهِمُ السَّلام سُنَّت دې
- د فیشن پرستۍ وبال
- د اِیمان مضبوطولو طریقې
- د دجّال نه هم لویه فتنه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت اَبُو فَضل قُومَسَاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډير لوئي عاشقِ رسول او نيک انسان وو، يو ځل د خراسان يو عاشقِ رسول هغوئي له راغلو او اوئې وئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زۀ په مسجدِ نبوي شريف کښې اوده ووم چې په ما باندې کرم وشو، عَرش ته تلونکے نبي، د جنّتونو سيل کوونکے نبي، د رَبّ محبوب نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماله په خوب کښې تشريف راوړلو- د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکو شونډو حرکت وکړو او د رحمت ګلونه راوورېدل، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: چې کله تۀ هَمَدان (ښار) ته لاړ شې نو اَبُو فَضل قُومَسَاني ته زما سلام ووايه- ما عرض وکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په هغوئي باندې د دې کَرم څۀ وجه ده؟ اوئې فرمائيل: هغۀ په ما باندې روزانه 100 کَرَته درود لولي- (1)

اس جوابِ سلام کے صدقے! تاقیامت ہوں بے شمار سلام
میری بگڑی بنانے والے پر بھیج اے کردگار سلام
اس پناہِ گنہگاراں پر یہ سلام اور کروڑ بار سلام (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... تاریخ الاسلام للذہبی، جلد:10، صفحہ:257، رقم:17516۔

[2]... ذوقِ نعت، صفحہ:170، 171 ملتقطًا۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه کوو: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دجَّال نه وِیرول د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د نن بیان موضوع د معمول موضوعاتو نه لږه بدله ده۔ نن به مونږه د دجَّال د فتنې پهٔ باره کښې د قرآن او حدیث تعلیمات اورو۔ دا خبره پهٔ ذِهن کښې ساتئ چې **د دجَّال نه ویرول د انبیائے کرامو** عَلَیهِمُ السَّلام **سُنَّت دي۔**

آؤ جي! حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ څوک چې صحابئ رسول دے، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادم هم دے، د هغوئي نه روایت دے چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَا مِنْ نَبِیٍّ اِلَّا اَنْذَرَ اُمَّتَهُ الْاَعْوَرَ الْکَذَّاب یعنې څومره نبیانو چې تشریف راوړو، ټولو خپل خپل اُمتونه د ډیر دروغژن شیره دجَّال نه ویرول۔(2)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دجَّال واقعي ده چې ډیره لویه فتنه ده، کومه چې به قیامت ته نزدې ظاهریږي۔ راځئ چې د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام پهٔ سُنَّت باندې عمل وکړو او د دې فتنې پهٔ باره کښې روایتونه واورو۔

---

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

2...بخاری، کتاب التوحید، باب قول الله تعالی:(وَلِتُصْنَعَ عَلٰی عَیْنِی)، صفحه:1788، حدیث:7408۔

# دجَّال چرته دے؟ كله به راووځي؟

**مسلم شريف** كوم چې د حديثِ پاک ډير مشهور او معتبر (***Authentic book***) كتاب دے، په دې كښې روايت دے، زۀ دا روايت د تشريح او وضاحت سره بيانووم-

راوي وائي: يوه ورځ خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِعلان وكړو (چې د نـمونځ په وخت دې ټول جومات ته راجمع شي، نو ټول راجمع شول)- نـمونځ ادا كړے شو- د نـمونځ نه پس نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په منبر باندې تشريف فرما شو، هُغه وخت يـې په مخ مبارک باندې مُسكا وه- اوئې فرمائيل: ټول په خپلو خپلو ځايونو باندې كښينئ- نور يـې وفرمائيل: تاسو ته معلومه ده چې تاسو ما د څۀ د پاره راجمع كړئ؟ صحابۀ كرامو رَضِيَ اللهُ عَنۡهُم عرض وكړو: اَللّٰهُ وَرَسولُهٗ اَعۡلَم يعني **الله** پاک او د هغۀ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښه معلومه ده- رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بے شكه ما تاسو د څۀ خبرې د رغبت دركولو يا د څۀ خيز نه د ويرولو د پاره نۀ يـئ راجمع كړي (بلكې يوه واقعه رامخې ته شوې ده، د هُغه واقعې بيانولو د پاره مې راجمع كړي يئ، هُغه واقعه څۀ ده؟ اوئې فرمائيل:) تَمِيم دارِي مخكښې غير مسلمه وو، هغه راغلو او زما په لاس باندې يـې بيعت وكړو او اِسلام يـې قبول كړو- هغۀ ما ته خپله واقعه بيان كړه، هُغه واقعه څۀ ده؟ هُغه خبرې كومې چې زۀ تاسو ته كووم-

بيا چې د حضرت تَمِيم داري رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ سره څۀ وشو، نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه واقعه په منبر باندې كيناستو او بيان يـې كړه، حضرت تَمِيم داري رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ وائي: مونږ 30 كسان وو، په سمندري سفر باندې روان شو- دغه وخت سختې چپې راغلې كومو چې زمونږه سمندري جاز د خپلې لارې نه بے لارې كړو- يوه مياشت هم داسې په سمندر كښې ګرځيدو- يوه ورځ مابنام وو، مونږه يوه جزيره (***island***) وليدله- هلته مونږ يو چارپايه (د ځلورو ښپو والا ځناور) وليدو- د هغۀ په وجود باندې تش ويښته وو، دومره

ویښته وو چې د هغهٔ مخ ترینه نهٔ ښکاریدو- هغه ځناور زمونږ سره خبرې وکړې او اوئې وئیل: زهٔ یو جاسوس یم- مخکښې ځئ، دلته یوه ګرجا ده، هلته یو کس ستاسو انتظار کوي- فرمائي: مونږه د هغه چارپایه د خبرو نه ویریدو چې هسې نه چرته پیریان وغیره وي-

خیر! مونږه ګرجې ته لاړو، هلته د دومره لوئي وجود والا انسان وو چې مونږ چرته داسې انسان نهٔ وو لیدلے- هغهٔ پهٔ مضبوطو زنځیرونو باندې تړلے شوے وو- مونږ پوښتنه وکړه: ستا دې بد وي، تهٔ څوک یې؟ هغهٔ ووئیل: وړومبے تاسو ووایئ چې تاسو څوک یئ؟ مونږ هغهٔ ته ووئیل چې مونږ د عربو اوسیدونکي یو او لار رانه ورکه شوې ده او دلته رارسیدلي یو- هغهٔ ووئیل: د بَیسَان نومې باغ پهٔ باره کښې راته ووایئ! آیا هغه میوې کوي؟ مونږه ووئیل: آؤ! هغه میوې کوي- هغهٔ ووئیل: نزدې ده چې هغه باغ به ویجاړ شي- بیا یې ووئیل: پهٔ بُحیرَه طَبَرِیَّه ( یعنې ***See Of Galilee*** دا د فلسطین سره نزدې یو ډېر لوئي تالاب یعنې ډنډ دے) آیا پهٔ هغې کښې اوبه شته؟ مونږ ووئیل: آؤ! هغه د اوبو نه ډک دے- اوئې وئیل: ډېر زر به د هغې اوبه وچې شي- دغه شان بیا هغهٔ بَله یوه پوښتنه وکړه چې ما ته د نَبِي اُمِّي پهٔ باره کښې ووایئ- مونږ ووئیل: هغهٔ پهٔ مکه کښې وو، هغوئي د نبوت دعویٰ فرمائیلې ده، اوس یې د مدینے منورې طرف ته هجرت کړے دے- اوئې وئیل: د عربو د پاره دا بهتره ده چې د نبي اُمِّي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانبرداري وکړي)-

بیا هغهٔ ووئیل: اوس زهٔ تاسو ته د خپل ځان پهٔ باره کښې وایم، زهٔ دجّال یم- ډېر زر به ما ته د وتلو اجازت راکړے شي، زهٔ به پهٔ **40 ورځو کښې په ټوله زمکه کښې چکر لګوم، هر یو کلي، هر یو ښار ته به ځم- آؤ! مکے مدینے ته به ما ته د تللو اجازت نهٔ وي-**

خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واقعه بیانوله چې کله دې ځائے ته راورسیدو نو د مدینے د محبت پهٔ جوش کښې یې خپله اَمسا مبارکه منبر له راواچوله او اوئې فرمائیل: هٰذِهٖ طَیْبَه هٰذِهٖ طَیْبَه هٰذِهٖ طَیْبَه دا طیبه ده، دا طیبه ده، دا طیبه ده-

سُبْحٰنَ الله! د دې نه پس رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: آيا دا تولې هٰغه خبرې نۀ دي کومې چې زۀ تاسو ته بيانووم؟ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عرض وکړو: آؤ جي! يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا خو هم هٰغه خبرې دي کومې چې تاسو مونږ ته مخکښې بيان کړې وې-

د دې نه پس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: واورئ! دجّال پۀ بحرِ شام کښې قيد دے يا پۀ بحرِ يمن کښې- نن سبا پۀ دې دواړو کښې نشته، چې کله راووځي نو د مشرق د طرف نه به راځي-(1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ دې واقعه کښې يو خو د دجّال پۀ باره کښې معلومات دي چې دجّال به قيامت ته نزدې نۀ پيدا کيږي،بلکې هغۀ پيدا شوے دے. (2) بس اوس د هغۀ د قيد نه راوتل دي- بعضې وخت پۀ سوشل ميډيا وغيره باندې غلط معلومات ورکړے کيږي، د دجّال معامله هم ډيره خطرناکه ده او حيرانيدونکې هم ده، ځکه خلق د وِيوَر شِپ (*viewer Ship*) زياتولو د پاره د دجّال پۀ باره کښې قِسما قِسم خبرې کوي چې پۀ فلانکي علاقه کښې ماشوم پيدا شوے دے، هغۀ د يوې سترګې والا دے، هغۀ دجّال دے، د هغۀ داسې پالنه کيږي وغيره وغيره- تولې د دروغو قيصې دي- صحيح خبره هٰغه ده کومه چې پۀ حديثِ پاک کښې ارشاد شوه چې دجّال پيدا شوے دے او کله د شام پۀ سمندر کښې قيد وي، کله د يمن پۀ سمندر کښې قيد وي او قيامت ته نزدې به چې کله راووځي نو د مدينے د مشرق طرف ته چې کوم سمندر دے د هٰغه ځائے د قيد خانې نه به راووځي-

بيا دلته پۀ يوه بله خبره باندې هم غور وکړئ چې دجّال کافِر دے، مردود دے، د خدايي

1... مسلم، کتاب الفتن...الخ، باب قصۃ الجساسۃ، صفحہ:1127، حدیث:2942 ملخصاً۔
2... فتح الباری، کتاب الفتن، باب ذکر الدجال، جلد:13، صفحہ:114، زیرِ حدیث:7131 خلاصۃً۔

دعویٰ به کوي، څومره ډیر خلق به دوزخیان کوي خو د حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان ځانګړے دے۔ دجال پخپله کافِر هُم دے د کُفر دعوت ورکوونکے هم دے خو د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعریف کولو نه بغیر پاتې نهٔ شو۔ هغهٔ حضرت تَمِیم داري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ووئیل چې د عربو پهٔ حق کښې هم دا بهتره ده چې هغوئي د نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه ووائي۔

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پهٔ دې ځائے کښې فرمائي: 2 کسان دي کومو له چې د اِسلام قبلولو دعوت کافرانو ورکړے وو: (1): یو حضرت تَمِیْم دارِي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې د دجَّال پهٔ ترغیب باندې هغوئي کلمه ووئیله (1): دویم حضرت سفیان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ، هغوئي شام ته د تجارت د پاره تلي وو، هلته هِرَقل بادشاه کوم چې غیر مسلمه وو، هغهٔ حضرت سفیان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ووئیل چې هغوئي ربنتونے نبي دے۔ د هِرَقل کلمه نصیب نهٔ شوه، حضرت سفیان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کلمه ووئیله او د صحابیت اوچتې درجې ته ورسیدو۔[1]

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اللّٰه پاک زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې د کمال والا نبي جوړ کړے دے چې دښمن که وغواړي نو هم یې بد نشي بیانولے۔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي:

وہ کمالِ حُسنِ حُضور ہے کہ گمانِ نقص جہاں نہیں
وہی پھول خار سے دُور ہے، وہی شمع ہے کہ دُھواں نہیں (2)

**وضاحت:** د دواړو جهانو د سرکار، مکي مَدَني سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حسن او جمال کمال دا دے چې څهٔ قِسمه کمے خو غته خبره ده چې د څهٔ کمي ګمان پکښې هم نشي

---

1...مراٰۃ المناجیح، جلد:7، صفحہ:308بتصرف۔
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:107۔

کيدے- عام طور د ګل سره ازغي هم وي، د شمعې سره لوږے هم وي، خو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رسالت داسې ګل دے چې هيڅ ازغے ورسره نشته او هغوئي داسې شمع ده چې هيڅ لوږے ورسره نشته-

د اَبُو لَـهب يو ځوي وو: عُتَيبَه- هغهٔ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډيره سخته ګستاخي کړې وه- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغهٔ خلاف دُعا وکړه: اے **الله** پاکه! پهٔ دهٔ باندې پهٔ خپلو سپو کښې يو سپے مسلط کړې- نو عُتَيبه يو ځل د شام په سفر روان وو، د هغه پلار اَبُولَهَب د دښمنۍ باوجود ووئيل: "ماته د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم د ښيرو فکر دے، د قافلې ټول خلق دې زمونږ خيال ساتي." قافله يو داسې ځائ ته ورسېده او اودرېده چرته چې زمرې ډېر وو، د اَبُولَهَب په وينا د شپې د ټولې قافلې سامان په يو ځائ جمع کړے شو او د هغه يوه غونډۍ شان يې جوړه کړه او په هغې باندې يې عُتَيبه اودهٔ کړو او د قافلې ټول کسان ترې څلور واړه طرفو ته اودهٔ شول. خو...

تمہارے مُنہ سے جو نکلی وہ بات ہو کے رہی

د اَبُو لَـهب ټول کوششونه بيکاره شول، د هغهٔ ځوي څنګلي ازمري وشلوو او ويـې غوررزؤ- هٰغه ازمرے هم عاشقِ رسول وو، هغه د ګستاخِ رسول غوښه اونه خوړله، ويـې شلوو او ويـې غوررزؤ-(1)

## د مکے مکرمې او مدينے منورې فضيلت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته د مدينے منورې فضيلت ته هم وګورئ! دجَّال به په ټولې دُنيا کښې ګرځي- هر يو کلي ته، هر يو ښار ته به ځي خو پهٔ حديثِ پاک کښې دي: دجَّال به مدينے منورې ته د داخليدو کوشش کوي خو چې کله اُحُد شريف ته نزدې

1...دلائل النبوة، الفصل الرابع العشرون...الخ، صفحہ:270-271 ملخصاً۔

شي نو فرښتے به يې د دغه ځائے نه پۀ مخه کړي۔(1)

د **بخاري شريف** پۀ روايت کښې دي: هُغه وخت به د مدينے منورې 7 لارې وي، پۀ هره لاره باندې به 2 فرښتے د حفاظت د پاره موجودې وي۔(2)

| | |
|---|---|
| مدينه، مدينه، همارا مدينه | همیں جان و دِل سے ہے پیارا مدینہ |
| سہانا سہانا دل آرا مدینہ | دِوانوں کی آنکھوں کا تارا مدینہ |
| یہ ہر عاشِقِ مصطفےٰ کہہ رہا ہے | همیں تو ہے جنّت سے پیارا مدینہ (3) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه لويه فتنه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دجّال ډيره لويه فتنه ده، پۀ حديثِ پاک کښې اِرشاد شول چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر د قيامته پورې چې څومره فتنې پيدا شوې دي يا به راځي، دجّال پۀ هُغه ټولو کښې لويه فتنه ده۔(4)

د دې نه به ايمان بچ کول دومره ګران وي چې د روايتونو مطابق دا به پۀ دُنيا کښې صرف 40 ورځې اوسيږي ❁ پۀ هغې کښې به وړومبۍ ورځ د يو کال برابر وي ❁ دويمه ورځ به د يوې مياشتې برابر وي ❁ دريمه ورځ به د يوې هفتې برابر وي ❁ باقي ورځې به د 24 ګينټو وي۔ دجّال به پۀ دې 40 ورځو کښې د ټولې دُنيا چکر لګوي - مکے مکرمې او مدينے منورې ته به نشي داخليدے ❁ د دۀ فتنه به ډيره شديد وي ❁ د دۀ سره به يو باغ او يو وور وي، دا به د باغ نوم جنّت ږدي او د وور نوم به دوزخ ږدي ❁ د

1...مسلم، کتاب الحج، باب صيانة المدينة...الخ، صفحہ:513، حديث:1379 مفہوماً۔
2...بخاری، کتاب فضائل المدينہ، باب لا يدخل الدجال المدينة، صفحہ:498، حديث:1879۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:355۔
4...مسلم، کتاب الفتن...الخ، باب فی بقية من احاديث الدجال، صفحہ:1129، حديث:2946۔

خدايي دعوىٰ به کوي ❁ مرې به راژوندي کوي ❁ زمکه به د هغهٔ پهٔ حکم باندې شينکے رازرغونوي ❁ اسمان به د هغهٔ پهٔ حکم باندې اوبه راوروي ❁ د هغهٔ منونکي به ډير مالداره وي ❁ شاړې ته به ځي نو د زمکې نه به خزانې راوځي او د هغهٔ سره به ورسره کيږي- د دې پهٔ شان به نورې هم ډيرې نخرې کوي د حقيقت سره به د دې هيڅ تعلق نهٔ وي، دا ټولې به د جادو خبرې وي ❁ دا به مدينے منورې ته تلل غواړي خو تللے به نشي، هغه وخت به پهٔ مدينه منوره کښې 3 زلزلې راځي، هلته به چې کوم منافقان وي او پهٔ ظاهره يـې د ځان نه مسلمانان جوړ کړي وي ، هغوي د زلزلو نه وتښتي او د دجَّال ملګرتيا به کوي ❁ د دجَّال پهٔ تندي باندې به ک، ف، ر (يعني کافِر) ليکلے شوے وي، هغه به هر مسلمان لولي، غير مسلمه به يـې نشي لوستلے-

چې کله دا پهٔ ټوله زمکه باندې ګرځي او فتنې خوروي او شام ته ورسي، دا به د سحر د نـمونځ وخت وي، بيا به حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د اسمان نه راکوز شي- دجَّال به د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د ساه پهٔ خوشبو باندې داسې وِيلې کيږي، لکه څنګه چې پهٔ اوبو کښې مالګه ويلې کيږي- دجَّال به د هغوئي د ساه نه لرې تښتي، هغوئي به پهٔ هغهٔ پسې شاته ورروان وي او د هغهٔ ملا به نيزه ووهي اوجهنم ته به يـې ورسوي-(1)

## تسبيح به خوراک جوړ شي

حضرت اَسما بنتِ يزيد رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي: يوه ورځ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ پهٔ کور کښې تشريف فرما وو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دجَّال پهٔ باره کښې وفرمائيل: د دجَّال د راتلو نه مخکښې به درې سخت کلونه وي ❁ پهٔ وړومبي کال به بارانونه نهٔ کيږي، د زمکې نه (چې به څومره پيداوار کيږي، د هغې نه به) پهٔ

[1] ...بہارِ شریعت، جلد:1، صفحہ:120-122، حصّہ:1۔

دريو کښې دوه حصې پيداوار کيږي ❁ د دې نه پهٔ بَل کال به پهٔ دريو کښې يوه حصه کيږي ❁ د دغې نه پهٔ بل کال به هډو پيداوار نهٔ کيږي- څناور به مړه شي- بيا به دجَّال راووځي- د دهٔ پهٔ سختو فتنو کښې دا هم دي چې يو باندېچي ته به ووائي: که زهٔ ستا اوښ راژوندے کړم نو بيا به مې منې چې زهٔ ستا رَبّ يم؟ باندېچي به وائي: آؤ! منم به يې- پس دجَّال به يو پيري ته حکم وکړي، هغهٔ به فوراً د هغهٔ د اوښ شکل اِختيار کړي، باندېچي به دا ګڼي چې زما اوښ راژوندے شو-

بيا به دجَّال د يو ګس خوا له لاړ شي، د هغهٔ پلار او ورور به وفات شوي وي، د هغهٔ د پاره به د هغهٔ ورور او پلار راژوندي کړي، يعنې پيريانو ته به وائي چې د دهٔ د پلار او د ورور شکل اِختيار کړئ! هغوئي به يې اِختيار کړي، هُغه ګس به دا ګڼي چې دجَّال زما ورور او پلار راژوندي کړل- (داسې به خلق د هغهٔ پهٔ دهوکه کښې راځي او هغهٔ به خُدائے مني)-

راوي وائي: د دومره وئيلو نه پس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د څهٔ کار د پاره تشريف يوړلو- واپس چې راغلو او اوئې کتل چې مونږ ټول غمژن ناست يو- اوئې فرمائيل: څهٔ وشو؟ ولې غمژن يئ؟ عرض مو وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د دجَّال چې مو واوريدل نو زړونه مو ويريدل - اوئې فرمائيل: فِکر مهٔ کوئ! که زهٔ ووم او دجَّال راووتو نو زهٔ به د هغهٔ سره پوهه شم- که زما د (ظاهري) وصال نه پس راووتو نو زما رَبّ به زما د غلامانو حفاظت فرمائي- عرض وکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! نن لوږه برداشت کول دومره ګران دي، هُغه وخت به قحط وي، مسلمانان به څنګه خپل ايمانونه بچ کوي؟ اوئې فرمائيل: مسلمانان به تسبيح وائي ، پهٔ دې باندې به د هغوئي جسماني ضرورتونه پوره کيږي-(1)

1... مشکوٰة، کتاب الرقاق، باب العلامات...الخ، حصّه:4، جلد:2، صفحه:301-302-

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے- نن مونږه سُبْحٰنَ اللّٰه وايو نو زړهٔ ته سکون ميلاؤيږي، رُوح تازه کيږي- هٰغه وخت چې به کله مسلمانان سُبْحٰنَ اللّٰه وائي نو زړهٔ ته به يې هم سکون ميلاؤيږي او دا تسبيح به يې د خوراک، د اوبو هم کار کوي، خِيټه به يې هم مړيږي-

## د ذِکرُ اللّٰه فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې نه مونږ ته سبق ميلاؤيږي چې مونږ له د ذِکرُ اللّٰه عادت جوړول پکار دي- سُبْحٰنَ الله، اَلْحَمْدُ لِلّٰه، اَللّٰهُ اَكْبَر، دا ښکلي ښکلي پاک کلمات دي، پهٔ دې باندې خپله ژبه لـمده ساتل پکار ده- پهٔ حديثِ پاک کښې دي: دوه کلمې داسې دي،چې د اللّٰه پاک ډيرې خوښې دي، پهٔ ژبه باندې ډيرې سپکې دي (چې ډيرې پهٔ اسانۍ سره لوستلے کيدے شي)، د عمل پهٔ تَله کښې به ډيرې درنې وي (کومې کلمې دي؟ اوئې فرمائيل:) سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحٰنَ اللّٰهِ الْعَظِيْم۔(1)

يو ځل د سُبْحٰنَ الله! وئيلو سره پهٔ جنَّت کښې وَنه نالولے کيږي- دا د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام زمونږ د پاره پيغام دے- د معراج پهٔ شپه باندې چې کله د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات وشو نو هغوئي وفرمائيل: اے مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خپل اُمت ته زما د طرف نه دا پيغام ورسوئ! چې د جنَّت زمکه خالي ميدان دے- د اللّٰه پاک تسبيح کوئ او دلته ونه نالوئ! (2)

اللّٰه پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

راځئ چې ټول دولس ځله سُبْحٰنَ الله! اُووايو-

1...بخاری، کتاب التوحید، باب قول اللہ تعالیٰ...الخ، صفحہ:1823، حدیث:7563۔

2...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحہ:796، حدیث:3462 ملتقطاً۔

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله |
| سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله | سُبْحٰنَ الله |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فيشن پرستئ وبال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دجَّال فتنه ډېره سخته ده، دا د ټولو نه لويه فتنه وګرځولے شوه- پهٔ دې فتنه کښې درته معلومه ده چې څوک به اخته کيږي؟ يعنې د دجَّال دهوکې چې وويني نو څوک به يې خدائے مني؟ څوک به پهٔ هغهٔ پسې ورپسې کيږي؟ حديثِ پاک واورئ! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: زما د اُمَّت 70 زره کسان به پهٔ دجَّال پسې ورپسې کيږي، د هغوئي به د نقش و نګار والا جامې وي-(1)

دجَّال به هغوئي خدائے مني څوک چې فيشن پرست وي، د غير مسلمو نقل کوونکي وي، د هغوئي پهٔ شان ځان جوړوونکي وي- د هغوئي به بيخ وتلے او دوئي به دجَّال خُدائے مني او د دوزخ حقدار به جوړيږي-(2)

اللّٰه! اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره د خفګان خبره ده- د دجَّال پهٔ فتنه کښې به هغوئي اخته کيږي کوم چې د غير مسلمو نقل کوونکي وي- افسوس چې دلته دا نقل کول ډېر عام شوي دي ❀ زمونږه جامو ته وګورئ، جامې د سُنَّتو مطابق نهٔ دي ❀ مخونو ته مو وګورئ، د ډېرو خلقو پهٔ مخ باندې د سُنَّتو نُور نشته، بلکې د غير مسلمو نخښې پرې ښکاره

---

1... مشکوٰۃ، کتاب الرقاق، باب العلامات...الخ، جلد:2، صفحہ:301، حدیث:5490۔

2... مراٰۃ المناجیح، جلد:7، صفحہ:317۔

دي ❁ زمونږ د کورونو انداز ❁ زمونږه تعليمي اداري ❁ سوچونه، فِکرونه، آه---!! هغه کوم ځايونه دي، هغه کوم کارونه دي په کومو کښې چې د غير مسلمو نقلونه نهٔ کيږي- ډاکټر اِقبال وئيلي وو:

وضع میں تم ہو نصاریٰ تو تمدن میں ہنود | یہ مسلماں ہیں جنہیں دیکھ کے شرمائیں یہود

**وضاحت:** يعني [د مسلمانانو] لباس او چال چلن او طور طريقې د غير مسلمو په شان شوې، آه! مسلمان څومره عجيبه شو چې ده ته اوګوري نو غير مسلمه به هم وشرميږي.

## د غير مسلمو نقل کوونکي

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** زه خلاصه عرض کووم: د غيبو نه خبردار، د دواړو جهانو سردار، محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: تاسو د مخکښينو پهٔ طريقو باندې ځئ- د لويشت لويشت مطابق، د ګز ګز مطابق، تر دې پورې چې هغوئي د سمسرې سورې ته ننوځي نو تاسو به هم وريسې ځئ-[(1)]

د حديثِ پاک څهٔ مطلب دے؟ وضاحت يې واورئ! د مخکښينو نه مُراد دے: **د تورات والا او د انجيل والا**-[(2)] د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِرشاد مطلب دا دے چې تاسو به هم د هغوئي نقل کوونکي جوړ شئ، دومره ډير نقل به کوئ لکه څنګه چې د دوو لاسونو تَلي بالکل برابر وي يا يو ګز، د بل ګز سره بالکل برابر وي، داسې به تاسو هم د هغوئي سره يو شان روان يئ، تر دې پورې چې که هغوئي بالکل څهٔ بے فائدې کار کوي نو تاسو چې هغوئي ته وګورئ نو تاسو به هم پهٔ بے فائدې کارونو کښې اخته شئ-

---

[1]...بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، باب ماذکر عن بنی اسرائیل، صفحہ:887، حدیث:3456۔
[2]...بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، باب ماذکر عن بنی اسرائیل، صفحہ:887، حدیث:3456۔

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه د دې حدیث په شرح کښې لیکلي دي: دا فرمان مبارک واورئ او خپل حال ته وګورئ---!! سکهان، پارسي، مجوسیان غیر مسلمه ټول خپل خپل شکلونه، خپلې جامې، خپلې طور طریقې خوښوي خو مسلمانان دي چې د غیر مسلمو په نقلونو پسې مړه کیږي، سَر خپل دے، ویښته پرې انګریزي دي، خُله خپله ده، ژبه پکښې انګریزي ده، خوراک خپل دے، خوري یې د انګریزانو په طریقه-(1) دا نقلونه تر دې حده پورې زیات شوي دي چې په کومو کارونو کښې بالکل هم څه فائده نشته، اُلټا پکښې نقصان دے، تکلیف دے، په هغې کښې هم د هغوئي نقل کولے شي ❀ اوس په ګیره خریلو کښې څۀ فائده ده؟ هیڅ هم نۀ، نقصان دے پکښې، ګیره به خریوي او د دوزخ حقدار به جوړیږي ❀ په ولاړه د خوراک کولو څۀ فضیلت دے؟ خلق یې خوري، بیماریږي، بیا ډاکټرانو له روان وي ❀ نارینوو چونټې پریښودې وي، ولې؟ فلانکے ایکټر مو لیدلے وو ❀ زنانه بے پردې ګرځي، بے پردې زۀ وایم، د دې نه په مخکښې وئیلو راله شرم راځي ګنې بے پردګي خو اوس وړه خبره ده، په دې کښې څۀ فائده ده؟ نقصان دے، په معاشره کښې بے حیائي خوریږي، هره ورځ خبرونه راځي، د جینکو ماشومانو سره زور زیاتے کیږي او وژلے کیږي ❀ د زنانۀ عزتونه محفوظ نۀ دي- نور څومره مثالونه بیان کړم؟ ټولو ته معلومه ده چې په معاشره کښې څۀ کیږي- بس مونږ په هغوئي پسې روان یو-

مونږه واوریدل چې د دجّال په فتنه کښې به هغوئي راګیریږي څوک چې د غیر مسلمو نقل کوونکي وي- اَلۡاَمَانۡ وَالۡحَفِيۡظ...!! اللّٰه پاک دې مونږه محفوظ کړي- په سُنّتو باندې تلل پکار دي-

1...مراۃالمناجیح، جلد:7، صفحہ:167۔

## د آقا د ګاؤنډ موندلو نُسخه

پۀ حديثِ پاک کښې دي: مَنْ اَحْيَا سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ، وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ يعنې چا چې زما سُنَّت ژوندے کړو هغۀ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغۀ به زما سره وي- (1)

سُبْحٰنَ الله! وګورئ! آيا داسې فضيلت پۀ غير مسلمو پسې پۀ تللو کښې شته؟ آيا د انګريزي ويښتو پۀ جوړولو به جنَّت ميلاؤيږي؟ نۀ ميلاؤيږي- پۀ ګيره خريلو به آيا جنَّت ميلاؤيږي؟ پۀ فيشن کولو به آيا قبر روښانه کيږي؟ نۀ کيږي- دا د سُنَّتو برکت دے، د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږو ښکلو اداګانو نقل کوئ! قبر به هم روښانه کيږي، پۀ حشر کښې به مو هم مزې وي، پۀ پل صراط باندې به هم پۀ سکون سره تيريدل او پۀ جنَّت کښې به د آقا ګاؤنډ هم اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! نصيب شي او اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! دُنيا به مو هم بنه شي-

اسے مانتی ہے دُنیا، اسے ڈھونڈتی ہے منزل | رہِ عشقِ مصطفٰے پہ جو غُلام چل رہا ہے

## پۀ سُنَّتو باندې د عمل کولو پۀ برکت يــې بخښنه وشوه

اِمامِ ذهبي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ليکلي دي: علّامه هِبَةُ الله طَبَري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې وفات شو نو حضرت علي بن حسين رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هغوئي پۀ خوب کښې وليدو- پوښتنه يــې ترينه وکړه: الله پاک ستاسو سره څۀ معامله وفرمائيله؟ جواب يــې ورکړو: الله پاک زۀ وبخښلم- عرض يــې وکړو: پۀ څۀ وجه؟ اوئې فرمائيل: د سُنَّت پۀ وجه- (2)

سُبْحٰنَ الله! دا پۀ سُنَّت باندې د عمل کولو برکت دے خو افسوس چې مونږ ته د سُنَّتو

---

1 ... مشکوة المصابيح، کتاب الايمان، باب الاعتصام ...الخ، فصل الثانی، جلد:1، صفحه:55، حديث:175-

2 ... سير اعلام النبلاء، رقم:3788، ہبة الله بن الحسن بن منصور، جلد:13، صفحه:270 ملتقطًا-

هم پته نشته- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څنګه ګرځيدو؟ کيناستو به څنګه؟ د خوراک مبارک انداز يـې څنګه وو؟ د ارام کولو انداز يـې څۀ وو؟ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلي ښکلي اداګاني څۀ وې؟ د دې معلومات هم راسره نۀ وي- آؤ! نوے فيشن کوم يو دے، دا راته معلوم وي؟ نن سبا پۀ مارکيټ کښې د موبائل نوے ماډل کوم يو دے؟ د موټر نوے ماډل کوم يو دے؟ د پيزارونو، جامو وغيره کوم يو ټرينډ چليږي؟ دا ټول معلومات راسره وي خو افسوس چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو معلومات راسره ډير کم وي-

زده کول پڪار دي کنه---؟ چې زده يـې کړو نو اختيار به يـې کړو- نو بيا ولې نۀ چې مونږ پۀ قافلو کښې سفر شروع کړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي والا د عاشقانِ رسول چې کومې قافلې سفر کوي، پۀ هغې کښې فرض علوم هم ښودلے شي، نـمونځ هم ښودلے کيږي، د اودس غسل احکام هم ښودلے کيږي، سُنَّت هم ښودلے کيږي او پۀ دې باندې د عمل کولو جذبه هم نصيب کيږي- ځکه پۀ قافلو کښې د سفر عادت جوړ کړئ! هره مياشت صرف د دريو ورځو پۀ قافله کښې د سفر معمول جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! دغه شان د بهارِ شريعت حصه 16 او د اميرِ اهلِسُنَّت رساله 550 سُنتيں و آداب ولولئ! د دې نه به مو هم ډير سُنَّت زده کول نصيب شي.

د دعوتِ اسلامي زير اهتمام کيدونکي شارټ کورسونه لکه ✿ د 7 ورځو فيضانِ نماز [نمونځ] کورس ✿ د 7 ورځو 12 ديني کارونو کورس ✿ د 7 ورځو اِصلاحِ اَعمَال کورس وغيره وکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په علمِ دين کښې به مو اضافه وشي.

| | |
|---|---|
| تِری سنّتوں پہ چل کر مِری روح جب نکل کر | چلے تُو گلے لگانا مَدنی مدینے والے |
| ترے نام پر ہو قرباں مِری جان، جانِ جاناں | ہو نصیب سَر کٹانا مَدنی مدینے والے[1] |

[1]... وسائل بخشش، صفحه:428 بتقدم وتأخر-

## ایمان مضبوط کړئ...!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دجَّال د فتنې نه د بچ کیدو یوه طریقه خو دا ده چې مونږه ایمان مضبوط ساتو او خپل ایمان ډیر زیات مضبوط کړو- په قرآنِ کریم کښې حکم کیږي:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اٰمِنُوْا (پارہ:5، النساء:136) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ایمان والؤ! ایمان ساتئ!

د تفسیر علمائے کرام د دې په وضاحت کښې فرمائي: اِزْدَادُوْافِی الْاِیْمَانِ یعني معنیٰ دا ده چې اے ایمان والؤ! خپل ایمان نور هم مضبوط کړئ! [1]

❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا په دې باندې په اِستقامت سره قائم هم اوسئ! ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا د دې په تقاضو باندې هم عمل وکړئ ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا د ایمان شعبې ډیرې زیاتې دي، دا شعبې هم اختیار کړئ! ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا په ایمان کښې نوره هم ترقي کوئ! ❁ کلمه خو مو ووئیله، بیا د خپل ایمان د کمال په فِکر کښې اخته شئ!

## د اِیمان د مضبوطولو طریقې

دا به ښنګه کیږي؟ په حدیثونو کښې د دې طریقه ښودلے شوې ده- خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: په **الله** پاک مې دې قَسم وي! بنده تر هٰغه وخته پورې کامِل مؤمِن نشي کیدے، تر څو پورې چې د خپل مسلمان ورور د پاره هٰغه څۀ خوښ نۀ کړي، کوم چې د ځان د پاره خوښوي- [2]

معلومه شوه چې مونږ د ځان د پاره څۀ خوښوو، هغه د نورو د پاره خوښول شروع کړو

---

[1]... روح المعانی، پارہ:5، النساء، زیرِ آیت:136، جز:5، جلد:3، صفحه:221-

[2]... کنز العمال، کتاب الایمان، جز:1، جلد:1، صفحه:36، حدیث:96-

نو زمونږه دِين به مضبوط شي ❁ د ځان د پاره عزت خوښ دے، د نورو د پاره يـې هم خوښول شروع کړو ❁ د ځان د پاره مو خير خوښ دے، د نورو د پاره هم خير خوښول شروع کړو ❁ د ځان د پاره مو خوښ دي چې څوک مونږ ته دروغ اونه وائي، دروغ پريږدو ❁ د ځان د پاره مو خوښ دي چې څوک مونږ له دوکه رانکړي، نورو له دوکه ورکول پريږدو- داسې به اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! ايمان مضبوط شي-

که ايمان مو مضبوط شو نو دجَّال خو څۀ دے چې د دجَّال پلار هم مونږ ګمراه کولے نشي-

## کامِل اِيمان والا مسلمان

پۀ حديثِ پاک کښې دي: يو ګس به د دجَّال سپاهي ونيسي او بوځي به يـې- هغه مؤمِن بنده چې به ښنګه دجَّال ويني نو غږ به وکړي: اے خلقو--!! دا هم هغه دجَّال دے د کوم پۀ باره کښې چې رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي وو- دجَّال به خپلو سپاهيانو ته ووائي: دا دلته سملوئ او ښه يـې ووهئ! نو هغه مؤمِن بنده به ښه ووهلے شي- پۀ وهلو وهلو به يـې حالت خراب کړي- بيا به دجَّال وائي: آيا تۀ ما خُدائے منې؟ هغه مؤمِن بنده به وائي: تۀ شيره دجَّال يـې- بيا به دجَّال حکم وکړي: اره راوړئ- د ارې مشين به راوړے شي، هغه مؤمِن به دوه ټوټې کړے شي- بيا به دجَّال هغه دوه ټوټې رايوځائے کړي او هغۀ به راژوندے کړي- بيا به ورته ووائي: آيا ما خُدائے منې؟ هغه مؤمِن بنده به وائي: اوس خو زما نور هم يقين شو چې هُم تۀ دجَّال يـې (ځکه چې رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي وو چې تۀ به يو ګس وژنې او بيا به يـې راژوندے کوې). (1)

سُبْحٰنَ الله! خومره پوخ ايمان دے- کاش چې زمونږه هم داسې ايمان نصيب شي-

[1]... مسلم، کتاب الفتن...الخ، باب فی صفة الدجال...الخ، صفحه: 1125، حديث: 2938-

## سورۂ کهف لولئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دجَّال د فتنې نه د بچ کيدو يوه طريقه دا هم ده چې مونږه د سورۂ کهف تلاوت کوو- **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** ځوک چې د سورۂ کهف وړومبي 10 آيتونه ياد کړي د دجَّال نه به **محفوظ** وي[1] او پۀ يو روايت کښې دي، ځوک چې د سورۂ کهف اخري 10 آيتونه ياد کړي د دجَّال نه به **محفوظ** وي-[2]

ځکه کوشش وکړئ چې د سُورۂ کهف وړومبي 10 او اخري 10 آيتونه ياد کړئ! بيا وخت پۀ وخت دا لولئ هم! خپلو بچو ته يې هم ياد کړئ او بچو ته هم دا نصيحت وکړئ چې هغوئي يې هم خپلو نسلونو ته ياد کړي- دا خو معلومه نۀ ده چې دجَّال به کله راووځي، ځکه چې خپلو نسلونو ته دا خبره ورسوئ نو اِنْ شَآءَ اللہُ الْكَرِيم! مونږه او زمونږ نسلونه به د هُغه بد بخته د فتنې نه **محفوظ** شي-

## د عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د محبت برکت

حضرت حُذيفه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ځوک چې د فتنو د عِلم سپيشلسټ وو- هغوئي فرمائي: د دې اُمت وړومبی فتنه د عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شهادت دے (چې هغوئي پۀ ظلم سره شهيد کړے شو) او اخري فتنه دجَّال ده- فرمائي: پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! ځوک چې د ذرې برابر هم پۀ خپل زړۂ کښې د عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ قتل ښه ګڼي، که هغۀ دجَّال بيامونده نو د هغۀ پۀ فتنه کښې به اخته شي (يعني د هغه تابعدار به جوړ شي)، که دجَّال يې اونه موندلو نو پۀ قبر کښې به وي او پۀ دجَّال باندې به ايمان راوړي- [3]

اَلْاَمَان وَالْحَفِيْظ...!! د دې نه اندازه ولګوئ چې د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت

---

1... مسلم، كتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب فضل سورة الكهف...الخ، صفحہ:291، حدیث:809-

2... معجم اوسط، جلد:1، صفحہ:397، حدیث:1455-

3... المجالسة وجواہر العلم، جلد:1، صفحہ:154، حدیث:286-

عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ محبت ځومره ضروري دے- چې د ذرې برابر هم د هغوئي بغض په زړهٔ کښې وي نو بنده به د دجَّال په فتنه کښې اخته کيږيږي- ځکه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره ډير محبت کوئ! او دا په زړهٔ کښې زياتوئ-

خدا بھی اور نبی بھی، خود علی بھی اس سے ہیں ناراض
عَدُو اُن کا اُٹھائے گا قیامت میں پریشانی
عَداوت اور کینہ اُن سے جو رکھتا ہے سینے میں
وہی بدبخت ہے ملعون ہے، مردود شیطانی
ہم اُن کی یاد کی دُھومیں مچائیں گے قیامت تک
پڑے ہو جائیں جل کر خاک سب اَعدائے عثمانی(1)

## د دجَّال نه هم لويه فتنه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دجَّال چې کله راځي هغهٔ خو به هسې هم راځي، الله پاک دې مونږه او زمونږ نسلونه د هغهٔ د فتنې نه محفوظ کړي- يوه فتنه د دجَّال نه هم ډيره خطرناکه ده - هغهٔ څهٔ ده؟ واورئ! حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يوه ورځ مونږه ناست وو او د دجَّال د فتنې په باره کښې مو خبرې کولې، په دې کښې د ښو اخلاقو والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله مونږه د دجَّال په باره کښې په خبرو کولو واوريدو نو اوئې فرمائيل: آيا زهٔ تاسو ته د هغه څيز په باره کښې اونه وايم د کوم چې ما ته ستاسو په باره کښې د دجَّال نه هم زياته ويره ده؟ مونږه عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ولې نهٔ (ضرور يې ارشاد کړئ!)، په دې باندې د دواړو جهانو آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:585584۔

شِرکِ خَفِي (يعنې رِيا کول، د دجَّال د فتنې نه زياته خطرناکه ده)- (1)

## رِيا څۀ ته وئيلے شي---؟

هر هغه کار (کوم چې شرعي طور صحيح وي او) د **الله** پاک د رضا د پاره وکړے شي، هغې ته عبادت وئيلے شي- که يو بنده دغه نيک کار د **الله** پاک د رضا نه علاوه په بله څۀ اراده وکړي نو دا ريا ده- (2) مثلاً نـمونځ کول عبادت دے، که څوک نـمونځ کوي خو د **الله** پاک د رضا د پاره يـې نۀ کوي، خلقو ته د ښودلو د پاره يـې کوي نو داسې ګس ته به رياکار وئيلے کيږي-

**الله** پاک دې زمونږه په حال باندې رحم وکړي- مونږ ته د ريا نه هم ځان بچ کول پـکار دي- خلقو ته د ځان ښودلو د پاره چې يو عمل هم نۀ کوو- په نيکو پسې نيکۍ کوو ✿ نـمونځونه کوو ✿ سجدې کوو ✿ په ذِکر او درود باندې خپله ژبه لمده ساتو، داسې وي چې ټول ژوند مو هم په نيکو کښې تير شي خو دا ټولې نيکۍ صرف او صرف د **الله** پاک د رضا د پاره وکړو، د خپل رَبّ د راضي کولو د پاره يـې وکړو- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د 12 ديني کارونو نه يو ديني کار: قافله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د آخرت د فکر حاصلولو، نيکو نه ډک ژوند تيرولو د پاره دعوتِ اسلامي سره وابسته شئ، په 12 ديني کارونو کښې عملي طور باندې شرکت وکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دنيا او آخرت ډير برکتونه به مو په برخه شي، د 12 ديني کارونو

[1]... ابن ماجه، کتاب:الزهد، باب:الرياء والسمعة، صفحه:682، حديث:4204-

[2]... رياکاری، صفحه:7-

نه یو دیني کار **قافله** هم ده.

**د نېکۍ دعوت ورکول او په دې لاره کښې مشقت اوچتول د انبیائے کرامو** عَلَیہِمُ السَّلام **سنت دي:** ❁ د دین کار د مشقتونو په اوچتولو، په قربانو ورکولو سره کیږي ❁ انبیائے کرام عَلَیہِمُ السَّلام ❁ صحابۂ کرام ❁ نېک خلق به د نېکۍ دعوت ورکولو د پاره د کورونو نه وتل ❁ لرې لرې علاقو ته به تلل ❁ هجرت به یې کولو او ❁ مشقت به یې اوچتولو او د دین پېغام به یې عام کولو ❁ د ښخوانو خلقو د قربانو په برکت مونږ ته دین رارسېدلے دے.

د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اسلامي هم په دې لاره روان دے؛ ❁ په ټوله دنیا کښې د دین پېغام عامولو د پاره په لکونو عاشقانِ رسول د قافلې په صورت کښې ملک په ملک، ښار په ښار، او کلو ته ځي او د نېکۍ دعوت ورکوي ❁ د قافلو په برکت ډېرو کافرانو کلمه وئیلې ده او مسلمانان شوي دي ❁ د لکونو خلکو په ژوند کښې د نېکو سپرلے راغلے دے ❁ اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د 3 ورځو، 12 ورځو، 1 میاشتې او 12 میاشتو قافلې سفر کوي.

تاسو هم په قافله کښې سفر کوئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! ډېر برکتونه به مو په برخه شي ❁ په قافله کښې فرض علمِ دین ښودل کیږي ❁ سنتونه ښودل کیږي ❁ د تهجد د نمانځه سعادت ملاویږي ❁ د نېکۍ دعوت عامولو موقع په لاس راځي ❁ د قافلې په برکت د دعاګانو پوره کېدل ❁ د مشکلاتو لرې کېدلو ❁ د بیمارو نه د شفا موندلو هم سلګونه واقعات شته ❁ داسې هم شوي دي چې په قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د حوصله افزایۍ د پاره خوږ آقا، مکي مدني مصطفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائیلے دے، په خوب کښې یې تشریف راوړے دے او د قافلې شُرکاء ته یې د دیدار سعادت ورکړے دے.

مونږ له هُم پکار دي چې په قافله کښې سفر وکړو، څه معلومه ده چې په مونږ باندې هم کرم وشي. کم از کم هره میاشت د 3 ورځو په قافله کښې د سفر نیت وکړئ! بلکې محرم شریف را روان دے، که کېدے شي نو د اوس نه خپل نوم وړاندې کړئ! **الله** پاک

دې د عمل توفيق را کړي.

راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو.

## کږه پوزه

د يو اسلامي ورور بيان دے چې زما د پوزې هډوکے کوږ وو، د سترګو او سر درد هم ډېر پريشانه کړے ووم. ما د آپريشن کولو اراده کړې وه. د آپريشن نه مخکښې مې په قافله کښې د سفر کولو سعادت حاصل کړو، مخکښې مې اورېدلي وو چې په قافله کښې دعاګانې قبلېږي، لِهٰذا ما د **اللّٰه** پاک نه دعا وغوښته: يا **اللّٰه** پاکه! د دعوتِ اسلامي د قافلې په برکت زما د پوزې هډوکے سم کړې. د قافلې نه د واپسۍ يو څو ورځې پس چې کله مې د پوزې هډوکي ته په غور سره وکتل نو زما د خوشحالۍ انتها نه وه ځکه چې په قافله کښې د کړې شوې دعا قبوليت صفا ښکارېدو، هغه داسې چې زما د پوزې کوږ هډوکے بالکل سم شوے وو!

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو ۔۔۔ لوٹنے رَحمتیں قافلے میں چلو
لینے کو بَرَکتیں قافلے میں چلو ۔۔۔ پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو
ٹیڑھی ہوں ہڈّیاں ، ہوں گی سیدھی میاں ۔۔۔ درد سارے مٹیں، قافلے میں چلو
دردِ سر ہو اگر دُکھ رہی ہو کمر ۔۔۔ پاؤ گے صحتیں قافلے میں چلو
غیبی امداد ہو گھر بھی آباد ہو ۔۔۔ چل کے خود دیکھ لیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہ عَلٰی مُحَمَّد

## د نـمونځونو د وختونو (Prayer Times) د ايپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دعوتِ اِسلامي د جديد ذريعو په ذريعه هم د قرآن او سُنَّت په خِدمت کښې مصروف دے، د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے

موبائل ايپلي کيشن د نـمونځونو د وختونو ***(Prayer Times)*** پۀ نوم جاري کړے دے ❁ د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه پۀ ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلوميدے شي ❁ د جُمعې پۀ وخت د موبائل آټو سائلنټ کولو آپشن هم موجود دے ❁ د دې نه علاوه د قرآنِ پاک د عربی متن او د ترجمے او تفسير سره د لوستلو او اوريدو سهولت موجود دے ❁ اذکار (روحاني علاج) هم ورکړے شوي دي ❁ د کاؤنټر تسبيح پۀ ذريعه تاسو خپل روزانه اوراد لوستلے شئ ❁ د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه تاسو ريډيو مَدَني چينل اوريدے شئ ❁ د نـمونځ اذکار هم د تجويد سره شامل کړے شوي دي ❁ د عيسوي او اِسلامي کلينډر ***(Calendar)*** سهولت هم موجود دے- ❁ د دې نه علاوه تاسو د دې ايپلي کيشن ډيش بورډ ***(Dashboard)*** پۀ 2 کلر تهيم کښې هم استعمالولے شئ- هم نن دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ، د دې سهولتونو نه پخپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځۀ نه پس به تقريباً پاؤ کم لس بجې [9:45] پۀ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني

رسالې د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د تفسير نُور العرفان نه 105 مدني ګلونه (قسط: 5)** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله ښځې هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او ځوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي! ❀ پهٔ دِين او دُنيا کښې که چرې امن غواړئ نو د ژبې حفاظت ډير ضروري دے، کله چرته څهٔ وئيل دي، د ځان خبرولو د پاره ولولئ، د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بهترين کتاب **د خبرو کولو آداب**- دا کتاب د مکتبة المدينه د يو ې څانګې نه پهٔ **325 روپې** پهٔ بيعه واخلئ! ښځې يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي- (1)

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سفر سُنَّت او آداب

❀ د خپلوانو، دوستانو سره ملاقات وکړئ او د خپلو غلطو معافي ترې وغواړئ او د چا نه

---

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

چې معافي وغوښتل شي په هغو باندې لازم دي چې د زړه نه معافي وکړي ❀ که يو څو اسلامي وروڼه يو ځائ د قافلې په صورت کښې سفر کوي نو يو کس دې امير وټاکي ❀ د سفر لباس واغونديئ، که مکروه وخت نه وي نو په کور کښې 4 رکعته نفل په **سورة فاتحه** او **سورة اخلاص** سره وکړئ او بهر ووځئ، دا رکعتونه به تر واپسۍ پورې د اهل [يعني د کور والؤ] او د مال حفاظت کوي ❀ د خپل جومات نه رخصت شئ. که مکروه وخت نه وي نو په هغې کښې هم 2 رکعته نفل وکړئ ❀ هر کله چې په سفر روانېږو نو مونږ له پکار ده چې مونږ خپل اهل [د کور کسان] او مال **اللّٰه** پاک ته وسپارو او د خپلې کورنۍ کسانو ته دا کلمات ووايو او په سفر روان شو: **اَسْتَوْدِعُكَ اللهَ الَّذِىْ لَا يُضِيْعُ وَدَائِعَهٗ** ترجمه: زه تاسو **اللّٰه** پاک ته سپارم، څوک چې سپارل شوي امانتونه نه ضائع کوي ❀ په سفر کښې د **اللّٰه** پاک ذکر کوئ ❀ مسافر ته پکار ده چې د دعا نه غفلت نه کوي ځکه چې تر څو پورې په سفر کښې وي د هغه دعا قبليږي ❀ په لاره کښې چې چرته اودريدل وي نو وخت په وخت دا دعا لولئ **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم**! د هر نقصان نه به بچ اوسئ. دعا دا ده: **اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّآمَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ** ترجمه: زه د **اللّٰه** پاک د پوره کلماتو پناه غواړم، د هغه [څيز] د شر نه چې هغه پيدا کړے دے ❀ د سفر نه په واپسۍ د کورنۍ د کسانو د پاره څه تحفه راوړئ چې دا سنتِ مبارکه ده ❀ د سفر نه په واپسۍ په خپل جومات کښې 2 رکعته نفل کول سنت دي.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 100 صفحو کتاب **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

غم کے بادل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو

ربّ کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.(1) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي(2) راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.(3) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.(1) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.(2) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.(3) راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵